SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارگان

څلورم کال دري اتيايمه گڼه پرله پسې (۲۷۳) يکشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د رجب المرجب (۲۹) د۱۳۷۸هـ ش کال د لړم دمیاشتې(۱٦) د۱۹۹۹ميلادي کال د توامبر (۷)

اهالي متدين ولايت لغمان:

آماده گي شانرا در جهت دفع و طرد دسايس دشمنان اسلام ابراز نمودند

علماء، بزرگان و اهالي متدين ولسوالیهاي عليتگار و تنگراج ولايت لغمان اخيراً طي اجتماع بزرگ آماده گي شانرا در جهت دفع و طرد دسايس دشمنان اسلام و تحكيم نظام اسلامي در كشور ابراز نمودند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: اجتماع متذكره كه به اشتراك هزاران نفر از اهالي ولسوالي هاي عليتگار و تنگراج و برخي از مسؤولين امارتي آنولايت داير گرديده بود با تلاوت آياتي چند از قرآن مجيد آغاز و سپس محترم مولوي محمد اسحق آخند زاده والي ولايت لغمان طي بيانيه عالمانه خويش ضمن توضيح اهداف امارت اسلامي افزودند: قوتهاي كفري جهان طرفدار آرامي و آسايش مسلمانان نبوده و به بهانه هاي گوناگون در پي بوجود آوردن مشكلات در كشور هاي اسلامي بوده و تعزيرات اقتصادي بالاي افغانستان را ميتوان به گونه مثال ياد آوري نمايم اما مسلمانان و خصوصاً مردم مجاهد كشور ما بفضل و ياري خداوند«ج» در مقابل پلانها و دسايس شوم كفري چنانچه در گذشته مقاومت و

ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي! همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را بی حرمتي بگذاريد.

محترم معاون رئيس الوزراً و رئيس تنظيمه زون شرق:

طرح تعزيرات اقتصادي در مقابل امارت اسلامي افغانستان بخاطر جلوگيری از تحكيم يك نظام سوچه و خالص اسلامي است

هر مسلمان بمنظور تحكيم نظام خالص اسلامي حاضر به هرگونه قرباني و جهاد ميباشد

محترم مولوي عبدالكبير معاون رئيس الوزرا، و رئيس تنظيمه زون شرق ديروز در جلسه وسيع علماء، موسفيدان و بزرگان اقوام ولسوالي لعل پور ولايت ننگرهار اشتراك نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: در آغاز جلسه آيات چند از قرآن عظيم الشا، ن تلاوت گرديده سپس محترم معاون رئيس الوزرا و رئيس تنظيمه زون شرق طي بيانيه عالمانه خويش رويه و عملكرد هاي دشمنانه اهداف و دسايس شوم امريكا و ساير كشور هاي كفري را در مقابل امارت اسلامي افغانستان توضيح نموده افزودند: امارت اسلامي افغانستان منحيث يك نظام واحد ملي اسلامي از زمان پيروزي به اينطرف با تعزيرات پلانها و دسايس شوم و گوناگو ن دشمنان روبرو بوده است.

طرح تعزيرات اقتصادي از جانب ايالات متحده امريكا و ملل متحد در مقابل امارت اسلامي بخاطر تروريزم و ساير ملحوظات نه بلكه بخاطر جلوگيري از تحكيم يك نظام سوچه و خالص اسلامي ميباشد كه آنها از موجوديت آن هراس دارند در حاليكه نظام اسلامي نظام امن، آرامي و ترقي بوده نه نظام وحشت و ترس و هر مسلمان بمنظور پيروزي،تحكيم و پيشرفت نظام سوچه و خالص اسلامي حاضر به هرگونه قرباني و جهاد ميباشد.

ص ٤

امتحانات سمستر نهايي مؤسسات تحصيلات عالي نظامي آغاز گرديد

امتحانات نهايي سال تعليمي ۱٤۲۰ هجري قمري موسسات تحصيلات عالي و تعليمي نظامي ديروز طي محفلي در حربي پوهنتون آغاز گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: محفل متذكره با تلاوت آيات متبركه از قرآن عظيم الشأن آغاز و بعد از قرائت پيام محترم وزير دفاع ملي، محترم مولوي ممتاز الله آغا «بشراني» رئيس تعليم و تربيه وزارت دفاع ملي پيرامون موضوع صحبت همه جانبه نموده و رسالت منسوبين مؤسسات تحصيلي و تعليمي نظامي را در امر فراگيري علم و دانش و روحيه وطن دوستي طلاب بر جسته ساخته و سعي و تلاش بيشتر شانرا در جهت بهبود تعليم و تربيه خواستار گرديد.

ص ٤

كلينيك صحي سره مياشت ولايت باميان به فعاليت آغاز نمود

كلينيك صحي سره مياشت ولايت باميان كه از چندي بدينسو غير فعال گرديده بود دو باره افتتاح و به فعاليت آغاز نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد: كلينيك صحي سره مياشت ولايت باميان بعد از يكسال وقفه بالاثر تلاش هاي هيأت رهبري جمعيت عالي افغاني سره

ص ٤

شبكه دومي برق د افغانستان بانك به بهره برداري سپرده شد

به سلسله احياء و باز سازي شبكه هاي برق رساني تاسيسات عام المنفعه اخيراً سيستم دومي برق پانزده هزار ولت د افغانستان بانك فعال و به بهره برداري سپرده شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: از اثر سعي و تلاش انجنيران و ساير منسوبين رياست برق كابل سيستم برق پانزده هزار ولت د افغانستان بانك دو باره فعال و مشكلات تخنيكي موجود بانك متذكره مرفوع گرديد.

جريان صلح شرق ميانه با وجود مشكلات همچنان پيش خواهد رفت

حسني مبارك رئيس جمهور مصر ابراز عقيده نموده كه جريان صلح شرق ميانه با وجود مشكلات همچنان پيش خواهد رفت رئيس جمهور مصر ديروز در پاريس ضمن ملاقات با ژاك شيراك رئيس جمهور فرانسه اين نظر را اظهار داشت.

در اين ديدار مساعي جهت تامين صلح پايدار در منطقه شرق ميانه و همچنين نتايج اجلاس اخير

ص ٤

بمنظور بهبود امور ادارات و ارتقا، سطح عوايد:

جلسه مسؤولين امارتي ولايت فارياب داير گرديد

بمنظور بهبود امور ادارات و ارتقا و سطح عوايد امارتي ولايت فارياب ديروز جلسه در مقر آنولايت داير گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: جلسه متذكره كه به اشتراك رؤسا و مسؤولين ادارات و تحت سرپرستي محترم الحاج ملا دين محمد آخند معاون ولايت فارياب داير گرديد در رابطه به بهبود امور و ارتقا

ص ٤

د ماليې وزارت په مرسته مو خپل يو شمير لوی هوټلونه د کورنيو او بهرنيو ميلمنو منلو ته آماده کړي دي

شريعت: قدرمنو لوستونکوا زموږ خبرپال له بيلابيلو امارتي ادارو له د رپوټونو د برابرولو په ترڅ کې دا خل د ماليې وزارت اړوند د هوټلونو تصدی د لوی رياست له مسوول محترم الحاج مولوی عبدالملک «درد نوری» سره د يوی مرکې په ترڅ کې د نوموړی تصدی د اړوندو هوټلونو د څرنگوالی په باب معلومات غوښتي او دغه رپوټ يې برابر کړی چې دادی خپروويې:

په پيل کې محترم رئيس صاحب څرگنده کړه: لکه څرنگه چې گران هيواد وال خبر دي زموږ په گران هيواد افغانستان او په ځانگړې ډول کابل ښار کې د وروستيو خپل منځي جنگ جگړو له امله هيواد او هيواد والو ته زيات زيانونه وارسيدل د هوټلونو د

٤ مخ

٣٩ تن حافظان قرآنكريم دستار بندي گرديدند

طي مراسم با شكوهي:

شريعت: طي مراسم با شكوهي ۳۹ تن قارغان دارالحفاظ و مدارس تعليمات اسلامي رياست معارف ولايت كابل دستار بندي گرديدند.

اجتماعي كه بدين منظور در مسجد جامع دوره مدرسه مركزي حضرت معاذ بن جبل «رض» واقع پغمان برگزار شده بود اراكين محترم امارت اسلامي

ص ٤

امريكايي او انگليسي الوتكو يو ځل بيا عراق بمبار ي کړ

د انگلستان او د امريكا د متحده ايالاتو جنگي الوتكو پرون د عراق په جنوب کې ددغه هيواد دراداړو او توپچی تاسيساتو مرکزونه څلور ځلي بمباري کړل.

عراق اعلام کړيدي چې ددغه هوايي بريدونو په بهيرکې دوه تنه ملکي کسان ټپيان شويدي.

د امريکا متحده ايالاتو د يوې وينا د خپرولو په ترڅ کي اعلام کړيدي چې له دغو هوايي بريدونو څخه هدف د انگليسي او د امريکا د متحده ايا لاتو الوتکو

٤ مخ

عبدالله اوجالان:

د کارگرانو د گوند غړي دې له وسله والې مبارزې نه لاس واخلي

د ترکيې په هيواد کې ددغه هيواد د کردانو مشر د گوند له غړو نه غوښتي دي چې له وله والي مبارزې نه لاس واخلي. عبدالله اوجالان چې په ترکيه کې په بند کې دي پرون

٤ مخ

به تعداد بيش از ٤٠٠ عراده وسايط مختلف النوع غرض محصول قطعي به گمرك كابل معرفي و اعزام گرديده است

شريعت: خوانندگان عزيز: گزارشگرما ازقومانداني كندك مراقبت ترافيك كابل ديدن نموده وضمن نشستي بامحترم سمونوال نصيراحمد قومانداني آن قومانداني ازوي درمورد كاروفعاليت هاي شان كه بعد ازپيروزي امارت اسلامي افغانستان به انجام رسانيده اند طالب معلومات گرديده كه اينك غرض مطالعه عزيزان تقديم ميگردد.

نامبرده گفت: قسمت هاي زياد شهرزيباي كابل كه درجنگهاي بي

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

په افغانستان کی د مخدرو موادو پر کنټرول د اقتصادی بنديزونو بدی اغيزی

دا خبره اوس ښکاره څرگنده شوی ده چې د کمونيزم د له منځه تلونه راوروسته لويديځ والو په بوه مخه د اسلام په دښمنی پسې ملاوې راتړلی دي او ټولی اسلامي نړۍ ته يې له کينې او توپيره ډکه پاليسي غوره کړی ده، چې کله په يوه پلمه او کله په بله پلمه په بيلا بيلو اسلامي هيوادونو بنديزونه لگوی خو د داسي کړو څخه گيله څکه نه تری کوو چې له پيل نه مو لا د ښيگړې هيله نه تری درلوده څکه دوی چې له هر چا سره يو دوه گامه هم اخلی نو د خپلو خاصو اهدافو د پاره دی. په حقيقت کی بشری خواخوږی نړۍ وال دود، دستور، انسانی متقابل احترام او نور ټول سپيڅلی عواطف دوی ته ارزښت نه لری خو د نورو دغو لولو لپاره يې يادوی او تاريخ گواه دی چې داسي ډېر برالا مخالفتونه يې کړی دی:

۲ مخ

روسي پوځونو پر گروژني خپلو بي ... بمباريو ته دوام ورکړي

د مهاجرينو په چارو کې د ملگرو ملتو د سازمان عالي کمشنري خبر داري ورکړيدي چې د چيچن هغه په زرگونو تنه خلك چې د روسيې د هوايي بريدونو له امله مهاجر شويدي نشي کولي د روان کال له ژمي مخکي خپلو کورونو ته ستانه شي.

جلسه صدراعظمان شانزده كشور آسياي مركزي و اروپاي شرقي در پراگ داير گرديد

جلسه صدراعظمان شانزده. كشور آسيا مركزي و اروپاي شرقي ديروز در پراگ مركز جمهوري چك برگذار گرديد.

اوضاع در منطقه بالكان در صدر اجنداي مذاكرات اين جلسه قرار دارد.

وزير امور خارجه جمهوري

٤ مخ

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هینت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : محمد داد
دبوي گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

د ټولنیزو نورمونو او بشري گډ ژوند غوښتنه خو دا ده چې د خپلو گټو د جلب او جذب په لاره کی دی کم ترکمه دومره بریدونه خو وپیژنی چی په ښکاره دگر دی نړی د گټو پر خلاف نه وی مطلب دا چی که له چا سره دښمنی لری، دښمنی دی ورسره وکړی خو داسی نه چی زیان یې ټولي نړی ته ورسیږی، له افغانستان سره د امریکی معامله همدغسی ده چی د خپل ذاتی سلیقوی اختلاف په سر یې اوس په ټول افغانستان د اقتصادی بندیزونو فیصله کړی ده دی بندیزونو ته اوس ایله بیله یوه اونی پاتی ده، که څه هم ظاهراً په مشروط ډول دی خو دوی پخه اراده کړی ده چې په هر حال دا بندیزونه ولگوی او دا خبره هم له چا پټه نه ده چی افغانستان د روسی یرغل په نتیجه کی په بشپړ ډول وران وېجاړ او هیڅ ډول اقتصادي بنسټونه پکي روغ نه دي پاتي اسلامي امارت چي د اوس یو کندواله هیواد پاته دی، څنگه به وکولای شی چی په تش لاس او د نړی والی مرستي نه پرته د مخدره موادو په کنترول کی پر مخ ولاړ شی ؟ موږ چی اوس د همدغو بندیزونو په درشل کی یو، په نړی واله سطحه هیڅا هم په دی هکله هغو پایلو او بشري غمیزو ته پام ونه کړ چی ددغو بندیزونو په نتیجه کی په افغانستان کی راپیښیدلای شی.

هو بندیزونه به په افغانستان ولگیږی او دا د ټینگ عزم خاوند او غیرتمن ولس به بې د خپلې خپلواکی د ساتنی په لذت کی وزغمی او افغانان اوس په ستونزو کی پاخه شوی دی ځکه دا شل کاله کیږی چې د همدغسی ناروا او سره مخامخ دی او ډول ډول ستونزی یې گاللی دی خو له خپل ملی غرور ، دینی او ملی روایاتو او خپلواکی څخه نه دی تیر شوی.

له بده مرغه هغه اخلاص، صداقت او دلچسپی چی اسلامی امارت یې د مخدرو توکو د کنټرول او له منځه وړلو په هکله لری بی له شکه به له ډیرو ستونزو سره مخامخ شی، ځکه چی کروندگر د مخدره موادو کرنی ته مجبور دی او د سختی اړتیا له کبله یې دغی د کرکی وړ دندی نه لاس اچولی دی او چی کله د بندیزونو غږ واوری نو بیا د نړی والو د غوښتنی هم چندان پروا نه کوی، افغانستان د اسلامی امارت له پیل نه داسی هڅی کوی چی بزگران د کوکنارو پر ځای د نورو زراعتی محصولاتو کرنی ته وهڅوی او په بدل کی له هغوی سره د ویالو، کانالونو، تخمونو او نورو مرستو په ورکولو سره هغوی ته قناعت ورکړی نو ښکاره ده چی د بندیزونو په وخت به اسلامی امارت ته د ستونزو په زیاتیدو سره دا پروگرام خامخا متاثره کیږی دا په داسی حال کی چی د افغانستان اسلامی امارت د کوکنارو د کرنی ددریمی برخی د راکمولو تصمیم نیولی دی او له ډیرو منهو ترڅو وروسته یې کروندگر په دی خبره قانع کړی دی او هیله ده چی تر بله کاله دا پروگرام ډیر په مخ ولاړ شی او هغه ورځ لری نه ده چی په گرد هیواد کی د مخدره موادو یو بوټی هم ونه کرل شی.

خوله بده مرغه ، نړی وال دغه واقعیتونه په پام کی نه نیسی او دا دی د بندیزونو داسی پریکړه یې وکړه چی حتمی پایلی یې ونه سنجولی او یا یې څه ارزښت ورنه کړ اوس دی نو دا قضاوت هم پخپله نړیوال وکړی چی د مخدره موادو په خلاف مبارزه کی د افغانستان اسلامی امارت بیا هم گرم بولی ؟ او دا چی افغانان د نړیوالو غوښتنو په مقابل کی څه کوی ؟ په داسی حال کی چی د نړی زورور هیوادونه ټول ددی پر ځای چی ددغسی ستونزو د له منځه وړلو لپاره مرسته **وکړی، لا نوری ستونزی هم را پیدا کوی او بیا چی په نتیجه کی څه منځ ته راځی گیلی کوی او پړه یې د افغانستان په اسلامی امارت اچوی ؛ افغانان له نړیوالو څخه په کلکه غواړی چی له انصافه کار واخلی او له تعصبونو او بی ځایه ضدازی نه تیر شی، د شاوخوا هیوادونو داله کینی ډکی لاس وهنی، د مخالفینو اکمالول او په بین المللی ډگر کی د هغوی سره هر ډول سیاسی، اقتصادی او نظامی مرستی کول بند کړی .**

نړیوال دی د واشنگټن د بندیزونو پریکړه چی د امنیت شوری تر عنوان لاندی یې کړی ده وغندی او د بیرته اخیستلو غوښتنه دی وکړی دا ځکه چی که افغانانو ته هر څومره ستونزی را پورته کړی هغه به وی خو د مخدروتو کو ستونزه چی بشری او نړیواله ستونزه ده ددغو بندیزونو په پایله کی به د هغی په خلاف د افغانستان د اسلامی امارت مبارزه نیمگړی شی او ویره ده چی د مخدروتو کو ناوړین به نوره پراختیا ومومي.

د هېواد شورى گانې د وخت مهم ضرورت

غلام محمد «فاروقي»

دا یو ښکاره حقیقت دی چی اسلامی امارت په افغانی ټولنه کی د گډوډی ، زورزیاتی ، قوماندان سالاری او په سلگونو نورو ناروا او بی رواجیو پر خلاف د یو عکس العمل په نتیجه کی د ډیرو صالحو افرادو په لاس منځ ته راغی داسی صالح خلک چی زمونږ د ټولنی له تل نه راوټوکیدل او د پردیو هیڅ راز کومه مداخله او اشاره پکی نه وه شامله د اسلامی امارت نقشه هیچا نه ده جوړه کړی، بلکه دا زمونږ د یو نیم لک شهیدانو د ارمانونو ژوندی تصویر دی او همدا زمونږ دینداره او با احساسه خلک وو چی ډیر په اخلاص راپورته شول او د خپلی ټولنی د ضرورتونو سره سم یې قدم واخیست او لوی خدای«ج» پکی خیر او برکت واچاو چی په زړه پوری نتیجی یې ورکړی او د اسلامی امارت موجوده انتظامیه تری جوړه شوه لنډه دا چی ددی اداری چلوونکی په خپله د خلکو استازی او د ولس له منځه راوتلی او په دردونو او کړاوونو یې خبر خلک دی خو له دی ټولو حقیقتونو سره سره بیا هم انتظامیه، حکومت او لاس لاندی خلک رعیت بلل کیږی او همدغه نن سبا د گردی نړی دود دستور دی. نو څنگه چی ددی دواړو خواو تر منځ یو ارتباطی پول ته ضرورت دی تر څو په ښه ډول او په آزادانه توگه د عوامو غوښتنی ، ضرورتونه او شکایات د حکومت تر غوږونو ورسیږی او له بلی خوا حکومت هم په خپل وار خپلی ستونزی او مشکلات د رعیت په وړاندی مطرح او له خپل ولس سره شریک کړی او په گډه یې د حل لاری چاری وسنجوی په دی سره به خلک هم په آسانه قانع او د حکومت له توانه وتلیو گیله بازیونه تیر شي همدارنگه دداسی شوراگانو او غونډو په جوړولو سره د نړی والو گوت نیونی هم تر یو حده ځواب ویل کیږی او د حکومت بین المللی وجاهت ته ډیره گټه رسوی.

پاتی شوه د شورى شرعی حیثیت، نو هغه خو له هیچا پټ نه دی چی لوی خدای «ج» خپل ډیر نازولی معصوم پیغمبر ته هم د مشوری امر کړی دی، کوم چی په هره شیبه وحی ورته راتله او مستقیماً د هغه په لارښوونه به یې تصمیم نیو خو ددی دپاره چی د خلکو سره یې اړیکی لا زیاتی او د هغوی اعتماد یې پر ځای ساتلی وی نو په مشوره کولو مامور شوی و نو څنگه چی اسلامی امارت چیرته په بهر کی نه پټی یارانی لری او نه مشاورین او د قوت اصلی سرچینه یې د الله «ج» مرسته او پر همدی خپل دینداره ملت باندی اعتماد کول دی، نو په کار ده چی په ټولو کارونو کی مشوره تری واخلی او د همدوی په خوله فیصلی وکړی او مسولیتونه یې هم په خپله پر دوی وربار کړی او څنگه چی د هیواد اداره د شرعی فیصلو سره سره د ژوند عملی تجربو ته هم ډیره اړتیا لری نو ښه به دا وی چی دی طرف ته هم پاملرنه وشی او په دی شوری گانو کی ، تجربه کار، سپین ږیری او متبحر علماء راغونډ کړای شی نو په دی سره به د شوری گانو اهمیت ، حیثیت او رول څو چنده زیات شی په هر حال اوس بالکل ددی وخت رارسیدلی دی چی اسلامی امارت دی پلو ته ډیره پاملرنه وکړی او د ښو موثرو شوری گانو په جوړولو سره یو طرف ته د ټولنی نظم لا ښه پیاوړی کړی او له بلی خوا په نړی واله سطحه د خپل قوت ، نفوذ او ملی محبوبیت مظاهره وکړی او په دی ډول د هغو دښمنانو خولی سپیری کړی چی له ختیځه تر لویدیځه ټول په یوه خوله د اسلامی امارت پر خلاف پوچ او بی ځایه تبلیغات کوی دا کار به په عملی او ډاگیزه توگه د دوی د دروغو ثبوت او قانع کیدونکی ځواب وگرځی او د عوامو د بې لاری کولو او په شک شبه کی اچولو څومره هڅی چی اوس روانی دی د ټولو مخه به ونیسی.

****

د خوړو او سرطاني ناروغيو ترمنځ اړيکي

وحید احمد «فاروق»

څیړنی ښیی چی د نورمال وزن لرونکی یا ډنگر کسان نسبت چاغو کسانو ته لږ د سرطان په ناروغی اخته کیږی باید یادونه وشی چی یو شمیر داسی خواړه هم شته چی فکر کیږی د انسان په وجود کی د سرطان له انکشاف څخه مخنیوی کوی او د سرطان ضد خاصیت لری.

غذایی فایبرونه یا تفاله لرونکی مواد لکه : غلی - دانی ، میوی او سابه د سرطان ضد موادو له ډلی څخه دی. همدا لامل دی چی نن ورځ یې د ډله ییزو خپری وسیلو پاملرنه ځانته راگرځولی ده . داسی فکر کیږی چی دغه مواد مایعات ځانته جذبوی او همدارنگه ځینی هغه مواد هم چی د انسان په وجود کی د سرطان سبب گرځی جذبوی.

او په دی توگه ددغی ناروغی د رامنځته کیدو نه مخه نیسی که څه هم وروستی څیړنی دا ښیی چی دغه مواد په هغه اندازه چی په اوپایمه میلادی لسیزه کی انگیرل کیدل د سرطان په وړاندی اهمیت نه لری. اما بیا هم هغو خلکو چی له دغه ډول خوړونه یې زیات کار اخیستی د نورو په پرتله ډیر لږ په دی ناروغی اخته شوی دی د ویتامین A او کاروتینی موادو لرونکی خواړه هم کولای شی چی د انسان وجود له هغو موادو نه چی سرطان را منځته کوی، خوندی وساتی. کاروتینی مواد هغه مواد دی چی د انسان په بدن کی له یو لړ پیچلو تعاملاتو وروسته په ویتامین A بدلیږي چي کولاي شو هغه په زیاته اندازه په گزرو او د شنو پاڼو لرونکو نباتاتو کي ومومو دغه راز ویتامین A د حیواناتو په ینه (ځیگر) هگیو، کوچ، پنیر(خپډک) شیدو او نورو خوړو کی هم پیدا کیږی، که څه هم چی له سرطانی ناروغیو څخه د مخنیوی لپاره د ویتامین A دقیقه دنده نه ده څرگنده شوی مگر ډاکتران په دی نظر دی چی ویتامین A د وجود په طبیعی وده او د ژونکو په جلایتیا یا Deferentiation کی ډیر اهمیت لری. او په دې توگه د سرطان له ناروغي نه چي په حقیقت کي د انسان د بدن د حجرو د غیر طبیعي زیاتیدو سبب کیږي، مخه نیسي د C او E ویتامینونه هم د سرطان ضد موادو په ډله کی منل شوی دی داسی گمان کیږی چی ویتامین C د Witrosamides له جوړیدو نه چی یوه سرطان زیږونکی ماده ده مخنیوی کوی، ویتامین C په زیاته اندازه په ستروس میوو کی لکه : مالته، نارنج، لیمو، رومی بانجانو او تازه مرچو کی پیدا کیږی او ویتامین E په ینه، دهگی په ژیړو او نباتی غوړیو کی پیدا کیږی همدارنگه ویتامین D کلسیم او سلینیوم هم کولای شی ددی ناروغی د پیښیدو چانس لږ څه کم کړی. که څه هم چی لامل یې تر اوسه پوری څرگند شوی نه دی. د (سرطانی ناروغیو د څیړنو ملی مرکز) له دی وژونکی ناروغی نه د ژغورنی او خوندی پاتی کیدو لپاره داسی توصیه کوی :

۱- د چاغوالی مخنیوی وکړی.

۲- د شحمی موادو کارونه په ورځ کی تر ۳۰٪ را کمه کړی.

۳- له فایبري یا تفاله لرونکو موادو لکه : غلی ، دانی، میوو او ترکاریو نه ډیره استفاده وکړی.

٤- په خپل ورځنی غذایی رژیم کی له هغو موادو نه زیات کار واخلی چی په زیاته پیمانه ویتامین A ویتامین C ویتامین E او کاروتینی مواد لری .

٥- د الکولی مشروباتو له څښلو نه ډډه وکړی.

٦- په هغه غوښه باندی چی د خوندی ساتنی په خاطر نایتریت لرونکی مواد پری وهل شوی وی لږ استفاده وکړی.

باید وویل شی تر اوسه پوری داسی شواهد نشته چی وښیی د تفاله لرونکو موادو یا د A،E،C ویتامینونو او یا د سلینیوم تر اندازی زیات خوړل انسان د سرطان ناروغی له حتمی پیښیدونه ژغوری. دغه راز که د هغو موادو په خوړلو کی چی فکر کیږی د سرطان ضد خاصیت لری، زیاتی وشی کیدای شی چی یو لړ سختی ناروغی را منځته کړی. نو دا به ښه وی چی ددی ډول خوړو په لگښت کی زیاتی ونه شی او هڅه وکړی چی پاک، صحی او متوازن خواړه وخوری.

ماتې خوړلي روسان يو ځلي بيا په چيچنيا کې زور آزمايي کوي

محمد سهیل «شاهین»

قطبی خرس د دوهم ځل لپاره په چيچنيا کی خپلی داړی را باسلی او غواړی د چيچنيا د مسلمان ولس څخه د ۹٤-۱۹۹٦ کلونو د شرمونکی ماتی غچ واخلی. هغه وخت روسی عسکر د دوه کاله زور آزمایی نه وروسته د قفقاز په سیمه کی پروت له دغه اسلامی هیواد نه سرټیټی ووتل د ځانی تلفاتو تر څنګ مسکو پدی جګړه کی شل زره ملیونه ډالره تاوان ولید په چیچنیا د روسی د اوسنی پوځی بریدنه داسی معلومیږی چی د کریملین چارواکو له نوموړی ماتی څخه پند نه دی اخیستی او غواړی اوس د چیچن له بی دفاع ولس نه انتقام واخلی.

د روسی عسکرو د اوسنیو هوایی بریدونو راپدی خوا چی د روان کال د سپتمبر په ٥ نیټه پیل شول، تر اوسه روسانو په زرګونو عام خلک وژلی دی روسی پوځ د عامو خلکو په خلاف د سکډ میزایلو څخه کار اخلی د ګروژنی په ښار کی په یوه آزاد مارکیټ باندی د سکډ په حمله کی شپیته تنه عام خلک ووژل شول او په سلګونو زخمیان شول انګوشیتا له سرحد سره نیږدی یوی مهاجری چیچنی میرمنی چی ژړل بی، وویل: روسانو زما پلار او مور او وروړ ووژل . هغوی د وسله والو کسانو او عامو خلکو فرق نه کوی. دوی په موږ بمباری کوی، موږ وژنی او هیڅ ډول توپیر نه کوی » .

د اوسنی یرغل د پیل نه، روسی پوځ په مسلسل ډول په کلیو او ښارونو د بی ا م ٤١ او توپونو ډزی کوی او عام خلک د چیچنیا نه وتلو ته مجبوروی. په مسکو کی روسی مامورین وایی چی په ګروژنی باندی د ځمکنی بریدنه مخکی غواړی چی ټول خلک ددی ښار نه وباسی دا ځکه چی روسان پوهیږی چي د چیچن ښځی او نر مجاهد دی او د ضرورت په وخت کی د خپلو وسله والو کسانو سره اوږه په اوږه جنګیږی دوی غواړی چي مجاهدین د همدی بشری قوت نه محروم کړی.

په چیچنیا باندی د روسانو د نظامی برید پلان په یوګوسلاویا باندی د ناټو برید ته ورته دی ناټو په یوګوسلاویا باندی د ځمکنی حملی په ځای هوایی بریدونو ته دوام ورکړ تر څو د خپلو عسکرو تلفات کم کړی روسان هم د چیچنیا له مجاهدینو سره د مخامخ جنګ زړه نلری او د لیری نه په مجاهدینو او عامو خلکو بمباری کوی او سکډ میزایل پری اوروی. حتی روسی پیلوټان په سړک د سورلي عام موټر هم ته پرېږدی د چیچن په سړکونو سوزیدلی موټرونه چی روسی پیلوټانو ویشتلی ، تیت او پرک پراته دی. د انګوشتیا ولس مشر اوسلان او چیف وایی روسی بشر دښمنه پیلوټان په سړک د روانو موټرونو د ویشتلو نه خوند اخلی. نوموړی د انګوشتیا په مرکز ماګاس کی په یوه مطبوعاتی کنفرانس کی وویل چی باید موږ په مسکو کی د هغو تروریستانو په خلاف هم وجنګیږو چی هغوی روسی چارواکی وځول چی په مسکو کی د بمونو په چاودنو کی د چیچن د حکومت لاس دی پداسی حال کی چی پدی برخه کی دوی هیڅ ډول ثبوت نلری. نوموړی د روسانو له خوا د چیچن او انګوشتیا د سرحد بند بندل سخت وغندل او په مسکو بی غږ وکړ چی ژر تر ژره د مهاجرینو په مخ سرحد پرانیزی تر څو وکړای شی ګاونډی هیواد انګوشتیا ته واوړی باید ووایو چی روسانو د چیچن ، انګوشتیا سرحدی سیمی په خاردار سیم پوښلی دی مهاجرین د سرحد د پرانستل کیدو په تمه کتار ولاړ دی چی څو کیلو متره اوږدوالی لری هغوی د منی پدی یخنی کی نه ګرمی جامی په تن لری او نه غذایی مواد . حتی څو تنو د ازدحام په نتیجه کی خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

د روسانو د ځمکنی او هوایی حملو راهیسی تر اوسه دوه لکه کسان د چیچنیا نه ګاونډیو هیوادونو ته مهاجر شویدی چی دغه شمیره د چیچنیا د ټول نفوس نیمایی تشکیلوی .

له بلی خوا د چیچنیا ولس مشر اسلان مسخدوف وایی چی روسانو تر اوسه ۳٦۰۰ کسان وژلی چی اکثر بی عام خلک دی. ددغی زړه دردونکی وضعی سره سره چی له یوی خوا روسی عسکر په چیچنیا کی د بشر حقوق تر پښو لاندی کوی او په یوه خپلواک هیواد بی یرغل کړی، له بلی خوا د غرب د بشر د حقوقو ګټندویان بی لاس تر زنی ننداره کوی او تر اوسه بی هیڅ ډول عملی قدم نه دی پورته کړی په تیرو ورځو کی د ناټو یوه چارواکی اعلان وکړ چی په چیچنیا کی د روسی عسکرو بریدونه د ناټو ګټو ته خطر نه متوجه کوی نو له همدی امله ناټو غواړی چی پدی شخړه کی ځان بیطرف وساتی .

همدا راز باید په تاسف ووایو چی د اسلامی هیوادونو مشران هم د روسانو له خوا د چیچنیا د مسلمانانو په قتل عام چوپه خوله دی، حتی د ترکیی صدراعظم خو په چیچنیا باندی د روسی یرغل د روسانو داخلی مسئله بللی ده . د چیچنیا په هکله د اسلامی او غربی نړی د افسوسناک دریځ په مقابل کی په ګرده نړی کی یوازی د افغانستان د اسلامی امارت مشرتوب په چیچنیا باندی د روسانو یرغل او هلته عامه وژنه سخته غندلی ده پداسی حال کی چی اسلامی امارت پخپله د امریکی د مسلسلو ګواښونو سره مخ دی، د مخلوق د خوشحالی او یا فشار لاندی بی، اسلامی ورورولی او د حق له طرفداری نه مخ نه دی اړولی او په ډاګه کړی بی ده چی روسان په چیچنیا کی د بشر حقوق او د یوه خپلواک هیواد ځمکنی بشپړتیا تر پښو لاندی کوی د حق د همدی ملتیا له امله که اسلامی امارت له یوی خوا د مستکبرینو په سترګو کی ازغی دی له بلی خوا بی د نړی د ملیونونو مسلمانانو او مستضعفینو زړونه لاس ته راوړی د ی .

په افغانستان کي د تېر شاهي نظام، ملي حاکميت، پارلمان او د تېر دموکراسي پال حکومت څرنګوالي ته يوه کتنه

ر.م.و ابراهیم خیل

پنځمه برخه

ظاهر شاه په ۱۳٥۰ کال خپله د کندز د سپین زر شرکت په کلوپ کی پدغه اړوند د یو شمیر علماو او روحانیونو پښتنو ته په ډاګه وویل : شوروی روسیه د نړی د ستر قدرت پحیث د افغانستان له پولو سره پنځه و پشت کیلو متره فاصله لری . دولت نه شی کولای د یو داسی پوله په پوله ګاونډ حکومت له ځینو حقایقو سترګی پټی کړی. زموږ د ملایانو د نظر افق باید دومره لنډ او ګنډ نه وی دوی باید د دولت مجبوریتونه هم په نظر کی ونیسی او له خپلی ګیډی مجردی او وچی خبری د هوا څپو ته ونه سپاری ؟!

هر کله چی پدی برخه کی علما او روحانیون د حکومت له همدردی او مرستی مایوس شول نو د سراسری ملک د عالمانو او روحانیونو یو شمیر استازی بی د افغانستان مرکز کابل ته له عدلی او شرعی مقاماتو سره د خبرو او تصمیم لپاره راواستول خو پاچا ته د دولت اراده او تصمیم د کانی کرښه بلل کیده دغه استازی د دولت هیڅ یو مقام په دغه باب د خبرو لپاره و نه منل، خو دغه استازی بیا هم د کابل د پل خشتی په جومات کی دیره او تم شول. ګوندی وی چی حکومت په هوښ راشی او پدغه برخه کی له دی خبرو ته غاړه کیږدی . څه کم ٤۰ شپی ورځی پدغه هیله نوموړی استازی په هغه جومات کی تم شول خو بیا هم چا د دوی په حال چی شمیر بی دری سوه تنو ته رسیده غوږ هم ونه ګراوه .

حکومت د پل خشتی په جومات کی د ملایانو د ورځ په ورځ زیاتیدونکی شمیر نه په ویره کی شو او داسی بی وپتیپله، چی په ملایانو شبخون ووهی د منی سړی شپی ورځی وی چی د حکومت په لمسون سردار عبدالولی د ظاهر شاه زوم او د مرکزی قول اردو قوماندان د زیات شمیر پولیسو او فوځیانو په مرسته په نیمه شپه کی هغه وخت چی ملایان په خواږه خوب ویده وه، هغوی بي د اطفائیی د سرو اوبو په شیندلو او برقی ډنډو په وهلو له جوماته په ډیره بی حرمتی وایستل. څه بی ونیول بندیان بی کړل. نیمایی بي چی زخمیان شوی و بیلو بیلو شفاخانو ته واستول.

ظاهر شاه ددی ظلم له ارتکاب نه وروسته ورځ په ورځ له پخوانی غرور او کبر نه را کوزیده څو چی د بی اداره ګی او بی کفایتی له ویری د ناروغی د علاج په پلمه ایټالیی ته وتښتید . داود د پاچا د تره زوی د روسانو په هڅو نه ځان په افغانستان کی د درواغجنی کودتا په پلمه د ظاهر شاه په ګدی کیناوه. هغه د روسانو په تکیه د هیواد د ټولو سیاسی ټولنیزو او فرهنګی وروسته پاتي والی پړه د ظاهر شاه د ناوړه اداری په غاړه واچوله. ده په خپله تګلاره کی ولس ته د ځمکنیو اصلاحاتو د څرګندونی له مخی د خپل حکومت له سوسیالستی څیری پرده پورته کړه او د اقتصادی ، مارکسیستی سیستم په غرض بی د کابل د ښار په بیلو بیلو برخو کی لکه خیرخانه مینه ، کارته پروان، مکروریان، دریمه کارته، خوشحال خان مینه بی شمیره کورسونه پرانستل، او هلته د خلق ، پرچم، ګوند غړو سیاسی درس ورکاوه چی پای ی د داود ،او نعیم د کورنیو د ټولو غړو او د ظاهر شاه د کورنی د څو تنو له منځه تللو سبب شوه .

ظاهر شاه د متوکل په حیث نه بلکی د خپلی خوښی سلطنت د دوام لپاره د ولس د نظر د مسیر د بدلولو د صحنی ادا کار

ظاهر شاه چی د پورتنی شعار په پرده کی د اسلامی فرهنګی او افغانی کلتور سره څه کړی د هغو زهرجن اثار لا تر اوسه په خپل زور، ځواک باقی دی. نړی په تیره بیا افغانان ښه پوهیږی ددغه زهرجن سیاست په نتیجه کی وه چی کفری بریڅو او کفری ځواک د اسلام ګریوان ته لاس واچاوه په یوه حساب شل کاله په بل پنځلس او په بل لس کاله خونړی جګړه وشوه د دوه ملیونو شهیدانو په بدله کی کفری ځواک له شرمه ډکه ماتی وخوړه او په ځای بی په داخلی جګړو په پای کی د اسلامی امارت په نوم اسلامی واکمنی ټینګه شوه په ملک کی اسلامی شریعت نافذ او سراسری امنیت ټینګ شو خو له بده مرغه بیا هم د کفری نړی کفری سرینده په افغانستان کی د کفری فیشن او مدنیت د نشتوالی ویرنی کوی. وطن د ښمنه عناصر له بهر نه د ډالرو په بیه اخلی زموږ د هیواد پولو او بریدونو ته بی بیځایه مزاحمتونو د پیدا کولو لپاره رااستوی . ظاهر شاه د خلکو دغوښتنو د ترسره کولو د سیاست پر ځای د هغوی د سوچ د مسیر د بدلولو په چالواکی کی لوی لاس درلود.

هغه یوه هیله درلوده او هغه په افغانستان کی د اسلام د مقدس دین او مذهبی سنتو په ځای کفری مدنیت ته ځای ورکول و .

د امریکا د فول برائت کلتوری پروګرام یا د شاتو په کپسول کی زهر :

ظاهر شاه ددین او د دیانت د کمزوری کولو او په خپل سر د هغه د له منځه تللو له پاره د یو خروار زهرو د فورمول په ځای د شاتو په کپسول کی هیوادوالو ته د نیم مثقال تریاکو ورکول غوره، ګڼل د افغانستان له پاره د فول برائت په نوم د امریکا روزنیز او کلتوری پروګرام په هیواد کی د دین د کمزوری او له منځه وړلو لپاره هغه نیم مثقال زهرو د ګمین د کپسول ښه مثال دی. د پوهنی وزارت کال په کال د امریکا د فول برائت د کلتوری پروګرام له مخی د لیسو د یوولسم ټولګی یو غوره او تکړه زده کوونکی امریکی ته استاوه ددغه پروګرام ماهیت دا وه چی دغه شاګردان له اروپایی خویونو ، خصلتونو کړو وړو سره آشنا کیږی . جامی، د روغ پر آداب، رفع، وضع هیلی او خیالات به بی بدلیږی. دین، مذهب به یو پوچ او بی مفهومه څیز ګنی په کابل کی دا د وروستیو ناځایی بی حیایی او له شرمه ډک بی علمه بدلونونه یا د فیشن مدنیت یوازنی سوغات و چی ددغه پادشاه د پردی لاندی اداکاریو یوه نمونه ورته وبللای شی .

د ظاهر شاه په وخت هر څه نمایشی، او هر څه د قوم او ولس د تیر ایستلو لپاره تر سره کیدل له هغی جملی یو هم د شوری لپاره د قوم او ولس د نمایندګانو انتخاب یا ټاکل وو ددی ولسی (ملی) په دولتی، اداری عدلی، سیاسی چاروکی ولس ته د حق ورکولو لپاره داسی قانون او مقررات وضع شوی و چی د هری ولسوالی د ولس په سر یو نماینده چه ښایی مومن وی نه کافر او د ٦٥ کلونو له عمر لوړ او له ۲٥ کلونو کم نه وی د لیک لوست خاوند او په سیمه او چاپیریال کی د ښیی سابقی څښتن وی د خپلی سیمی د خلکو د سری ، آزادو او مستقیمو رایو ورکولو له مخی ټاکل کیږی . خو له بده مرغه چی په افغانستان کی تل د شوری (پارلمان) د نمایندګانو د غوره کولو چاری له قانونی انتخاباتو شپږ میاشتی د مخه د حکومت له پلوه پټ په پټه تر سره کیدی او د ضبط احوالاتو او ملی مصونیت د اداری له لوری په ګوته شویو کسانو جدولو نه د هیواد هر ولایت ته په سری توګه لیږل کیدل، څو د انتخاباتو په وخت په ګوته شوی کسان په هره توګه چی وی په ولس کي انتخاب او شوری ته راواستول شی نه نور کسان، د حکومت مسؤلان به پخوا لدی چی عام خلک پوه شی پدی پوه وو چی د سیمی په ګوته شوی کسان څوک دی ؟ د دوی کسان دی له دغو به ګوته شویو کسانو سره به **ارتباط هاند او هڅه وکړی نور امیدواران دي دوکسه او په انتخاباتو کی دي په خپلو بریالی کیدو ډاډه او پدغه توګه د بیځایه پیښو پېښېدلو ته چټو او تکړه کړی څو له یوی خوا د انتخاباتو د اوږدي بزګښتي لویه شي. له بلي خوا اولس او نړیوال پدی یا ورشی چی ګڼی د افغانستان شوری د پوره دموکراسی نه برخمنه ده ددی خبری د ثبوت لپاره د ظاهر شاه د وخت د دوو ډیرو مخلصو وفادارو کار داراتو د خولی بیان وړاندی کوو :**

پاتی لری

به تعداد بیش از ٤۰۰ عراده وسایط مختلف النوع ...

مفهوم وذات البیني به مخروبه تبدیل وبسیاري ازتأسیسات عام المنفعه ازبین رفته بود تأسیسات ترافیکي نیزازاین حوادث در امان نماند که تقریباً صد فیصد تأسیسات جزایر زیگنال هاي ترافیکي ولوایح ترافیکي مانیست و نابودگردیده است .

بعد ازپیروزي تحریك طلباي کرام واستقرارحاکمیت اسلامي درکشور به سلسه بازسازي تأسیسات عام المنفعه قومانداني کندك مراقبتي ترافیك کابل توجه وهدایات ریاست ترافیك توانسته است که کارهاوظایف رادراین راستا انجام دهد که قرار ذیل ازآن یاد آوري میگردد.

۱ـ بتعداد ۳۵غرفه معلوماتي ترافیك درشهر کابل بانصب ٦پایه تیلفون اعمارگردیده است .

۲ـ سه برج ترصدي ترافیکي درچارراهي پشتونستان، پل باغ عمومي ، چارراهي پلازا بانصب لودسپیکر بمنظور رهنمایي ترافیکي جدیداً ترمیم ونصب گردیده است .

۳ـ۲٤جزیره ترافیکي جدیداًاعمار ومورد استفاده قرارگرفته است .

٤ـ بتعداد۱۱پایه سایه بان ترافیکي در چارراهي هاي مختلف جدیداًاعمارومورد استفاده قرار گرفته است .

٥ـ درجزیره هاي حاجي یعقوب، ملك اصغر وچارراهي هوتل کابل چراغهاي دوراني به منظورزینت وزیبایي شهر جدیداًفعال گردیده است .

٦ـزگنالهاي برقي که قبلاً ازاثر درگیریها بکلي ازبین رفته بود که توسط هیأت موظف مبلغ هشت هزاردالرفي چاراهي آنرابرآوردنموده بودتوسط موظفین ترافیك با پول ناچیز ترمیم ومورد استفاده شاملین ترافیك قرارگرفته است .

۷ـ بتعداد ٤٥ استند شعارهاي ترافیکي بمنظوررهنمایي وتربیه ترافیکي درنقاط مختلف شهرکابل نصب گردیده است

۸ـ بتعداد۹ استند تصویرحادثه ترافیکي بمقصد تعلیم وتربیه ترافیکي درنقاط مختلف شهرکابل نصب گردیده است .

۹ـ جزایرترافیکي چارراهي صحت عامه وچارراهي مکروریان ازاثر پیشنهاد ریاست ترافیك و همکاري شاروالي کابل باداشتن فواره آب کار آن عنقریب اکمال میگردد.

۱۰ـفواره آب پشتونستان واټ به اثر پیشنهاد وسعي وتلاش ریاست ترافیك وهمکاري موسسه محترم هبیتات ومقام شاروالي کابل به منظورزیبایي شهرمجدداً فعال گردیده است .

۱۱ـ فواره آب چارراهي ملك اصغر وده افغانان بمقصد تزئین وزیبایي شهر ازاثر سعي وتلاش اداره ترافیك جدیداًاعمار ومورد استفاده قرارگرفت .

۱۲ـ بمنظورتعلیم وتربیه ترافیکي همه روزه تبلیغات ترافیکي از طریق امواج رادیو به همکاري رادیو صداي شریعت صورت میگیرد.

۱۳ـ به تعداد ۲۸۰پایه لوایح مختلف النوع ترافیکي بمنظور تنظیم سالم جریان ترافیك درساحات مختلف شهرکابل جدیداً نصب گردیده است.

۱٤ـ به تعداد ۲۰۰ قبضه دنده توقف ترافیکي بتعداد ۲٥۰جوره دستکش و کلاه سفید اکمال وبه پرسونل ترافیك شهر کابل توزیع گردیده است .

۱٥ـ ازاثر کنترول ترافیکي وتحقق احکام مقام امارت اسلامي وریاست الوزرا، امارت اسلامي افغانستان بتعداد بیش از ٤۰۰ عراده وسایط مختلف النوع که محصول قطعي نگردیده بود غرض محصول قطعي به گمرك کابل اعزام گردیده که ازاین مدرك پول هنگفت به امارت اسلامي افغانستان عاید گردیده است .

۱٦ـ بتعداد بیش ازسي عراده وسایط که اسناد شان مشکوك بنظرمیرسید وهمچنان یکتعداد آنها دعواي حقوقي داشتند بریاست محترم جنایي وزارت اموداخله وریاست محترم حقوق وزات محترم عدلیه غرض حل وفصل قضیه شان اعزام وارسال گردیده اند.

تهیه کننده : سید یوسف

د مالیې وزارت په مرسته مو ...

تصدۍ لوی ریاست اړوند هوټلونه هم له دې زیانونو څخه بې برخې نه دي پاتې شوي او درانه زیانونه یې زغملي دي د بېلګې په ډول کوم زیانونه چې آریانا هوټل ته د هوایي بمبارۍ له امله اوښتي دي یو نیم ملیارد افغانۍ اټکل شوي دي.

ده زیاته کړه : اوس چې لله الحمد د پایتخت یعنې کابل ښار په ګډون د ټول هیواد په سلو کې پنځه نوي خاوره د افغانستان د اسلامي امارت تر تسلط او واکمنۍ لاندې راوستل شوې د افغانستان د اسلامي امارت د لوړ چارواکو د پاملرنې له امله د هیواد په مرکز او ولایاتو کې په پراخ ډول د بیا رغونې کارونه پیل شوي چې په دې لړ کې امارتي هوټلونو ته چې د هیواد حیثیت او آبرو ورپورې تړلې زیاته پاملرنه شوې ده. مونږ د مالیې وزارت د هاند او هڅو په نتیجه کې تر اوسه پورې په دې توانېدلي چې خپل یو شمیر لوی هوټلونه بیا ترمیم او د کورنیو او بهرنیو درنو میلمنو هر کلي او منلو ته یې اماده کړو.

دی زیاتوي : مونږ د هیواد په مرکز او ولایاتو کې یو شمیر هوټلونه لرو چې په لاندې ډول دي : الف : په مرکز کې : آریانا هوټل، پارک هوټل، سپوږمۍ هوټل، باغ بالا هوټل، په پغمان کې د بهار او جمهوریت هوټلونه، استالف هوټل او سروبي هوټل.

ب : په ولایاتو کې : د هرات په ولایت کې د هرات او اسلام کلا هوټلونه، په بلخ کې مزار هوټل، په فراه کې فراه رود هوټل، په کندهار کې کندهار هوټل، په غزني کې غزني هوټل، په پکتیاا کې ګردیز هوټل، ننګرهار کې سپین غر هوټل په او په بغلان کې خنجان هوټل. باید څرګنده کړم چې مونږ د خپلې تصدۍ اړوند په یو شمیر لویو هوټلونو کې د بیا رغونې کارونه پیل کړي او ترمیماتي چارې په چټکۍ سره مخ په وړاندې روانې دي.

محترم «دره نوري » په پای کې زیاته کړه لکه څرنګه چې مونږ تر اوسه پورې د افغانستان د اسلامي امارت د لوړ پوړ چارواکو په پاملرنه او همکاري سره په دې وتوانېدو چې خپل یو شمیر هوټلونه بیا احیا او درنو میلمنو منلو ته یې اماده کړو دغه راز زمونږ هیله دا ده چې دغه ډول مرستې او همکاري دې له مونږ سره جاري وساتل شي تر څو وکولای شو چې د هیواد په مرکز او ولایاتو کې خپل ټول هوټلونه بیا ترمیم او فعالیت ته چمتو کړو .

عبدالله اوجالان :

د یوي وینا په ترڅ کې چې دده دمدافع وکیلانو لخوا خپره شوه ویلي دي چې اوس د ده پلوي جنګیالان باید د یو سوله ییز حل لپاره له ترکیې سره د کوړانو بنځلس کلن جنګ پایته ورسوي.

اوجالان د کردستان د کار ګرانو ګوند له غړونه چې مشري یې دده پر غاړه ده غوښتي دي چې د خپلو حقوقو د تر لاسه کولو لپاره له سیاسي لارې هڅه وکړي .

ده وویل ددغه ګوند غړي چې وسله پرځمکه ږدي باید ویشل شي. اوجالان د روان میلادي کا ل په لومړیو وختو کې د ترکیې د محکمې لخوا هیواد ته د خیانت او بیلتون غوښتلو په ګناه په مرګ محکوم شویدي.

ټاکل شویده محکمه د نوامبر په ۲٥ نتیجه اعلان د پرخلیك په باب تصمیم ونیسي.

* * * * * * * * * * * * * *

جلسه صدر اعظمان ...

چك میگوید که قرار است در این جلسه مسایل چو ن تشدید اوضاع در منطقه بالکان و چگونگي رساندن کمکهاي بشري به مناطق جنگ زده یوگوسلاویا نیز مورد بحث قرار گیرد.

امریکایي او انګلیسي ...

ته د عراق لخوا د خطر ضعیفول دي چې ددغه هیواد په شمال او جنوب کې ګزمه کوي. له ۱۹۹۱ میلادي کال راپدیخوا د امریکا او انګلستان الوتکې په اصطلاح د الوتنې په ممنوعه سیمه کې ګزمې کوي د عراق حکومت د الوتنې دغه ممنوعه سیمه په رسمیت نه ده پیژندلي او د لویدیځ دغه اقدام یې ددغه هیواد په ځمکني بشپړتیا باندې په ډاګه تیري بنودلی دي.

روسي پوځونو پر ...

ددغې کمشنرۍ یوه ویاند وویل د چیچن په لسګونو زره تنه مهاجر باید په میاشتو میاشتو د انګوش په جمهوریت کې په خیمو کې ژوند وکړي .

روسي مقامات وايي، په تیرو څلیرویشتو ساعتونو کې شپږ زره تنه له چیچن نه وتلي دي.

څیرونکي وایي ددغو کډوالو زیاتوالي به د انګوش جمهوریت لپاره چې همدا اوس د چیچن دوه سوه زره تنه کډوال پکې دي درونډ پیټي وي له بله پلوه د روسیې ځواکونه په چیچن کې خپلو ډمبارېو ته دوام ورکوي او ددغه هیواد ځواکونه د چیچن مرکز ګروزني ته نژدې کیږي چې د چیچن د مبارزینو له کلك مقاومت سره مخامخ دي

جریان صلح شرق میانه ...

اوسلو مورد بررسي قرار گرفت حسني مبارك رئیس جمهور مصر روز گذشته جهت معاینات صحي به فرانسه مسافرت نموده است.

در مورد وضع صحي رهبر مصر و چگونگي تداوي هنوز خبري نشر نرسیده است قرار است فلسطینیان و اسرائیل مذاکرات خود را در مورد پیمان نهایي صلح امروز یکشنبه آغاز نمایند.٠

طرح تعزیرات اقتصادي ...

سپس عده از بزرگان و متنفذین آن ولسوالي طي صحبتهاي شان تعزیرات اقتصادي ایالات متحده امریکا و ملل متحد را تقبیح نموده و آماده گی کامل شانرا در جهت تطبیق و تحمیل اهداف نیك امارت اسلامي ابراز نمودند.

اهالي متدین ولایت ...

مجاهدت نموده اند در آینده نیز پیروز خواهند بود.

و تقاضاي ما از شما هموطنان ،حفظ وحدت ملي اخوت و خلوص نیت بوده و در این راه از بارگاه خداوندمتعال توفیقات مزید براي شما استدعا مي نمائیم.

سپس عده یي از موسفیدان طي بیانات شان ضمن تایید اهداف نیك امارت اسلامي بر آماده گي کامل شان در جهت دفع و طرد دسایس و بلاتهاي شوم دشمنان اسلام و نظام اسلامي تاکید ورزیدند.

امتحانات سمستر نهایي ...

محفل با قرائت دعائیه و رژه نظامي به پایان رسیده و امتحانات عملاً آغاز گردید.

جلسه مسؤولین امارتي ...

سطح عواید امارتي مفصلاً صحبت و تبادل نظر صورت گرفت .

همچنان روي یك سلسله مسایل اداري و رفع مشکلات موجود بعضي از ارگان ها تبادل نظر صورت گرفته و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ گردید.

طي مراسم با شکوهي ...

محترم الحاج مولوي سید غیاث الدین آغا وزیر معارف ، محترم مولوي سعید احمد «شهید خیل» معین اداري آن وزارت، محترم مولوي شجاع الدین «خداء» معاون اکادمي علوم، محترم مولوي محمد خالق داد مستوفي کابل و یك تعداد مسؤولین ادارات و مدارس، علما ، و روحانیون، استادان و طالب العلمان مدارس و تعداد کثیري از اهالي متدین و معارف پرور ولسوالي پغمان اشتراك ورزیده بودند.

محفل با تلاوت آیاتي از کلام الله مجید توسط قاري شهاب الدین آغاز گردید ، سپس بیانیه افتتاحیه محترم مولوي محمد اسحق «قانت» رئیس معارف ولایت کابل به ارتباط موضوع ایراد گردید.

متعاقباً محترم وزیر معارف ضمن بیانیه شان برگزاري همچو اجتماعات را بمناسبت دستار بندي قارئان دارالحفاظ ها و مدارس کشور مثبت ارزیابي نموده و ضمن روشن ساختن برنامه ها و اهداف فرهنگي امارت اسلامي، مسؤولیت و وظایف استادان و طالب العلمان را مشخص نمودند . همچنان سخنرانان پیرامون فضیلت تلاوت و حفظ قرآن عظیم الشأن در دنیا و آخرت صحبت نموده براي قارئان قرآن کریم توفیق مزید بخاطر تربیه سالم فرزندان مؤمن و مسلمان کشور از بارگاه ذات واجب الوجود استدعا نمودند.

در اخیر بر سر ۳۹ تن از قارئان بخش حفظ قرآنکریم ، مدارس و دارالحفاظها دستار بسته شد .

محفل متذکره که به اناثسري محترم مولوي عبدالرقیب«جهید» عضو علمي تعلیمات اسلامي و دارالحفاظ هاي ریاست معارف ولایت کابل پیش برده مي شد با دعائیه مبني بر خیر و فلاح امت مسلمه پایان یافت.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

امارت اسلامي و حامیان خارجي اش !!

از زمان فتح کابل بدست نیرو هاي امارت اسلامي تا امروز تبلیغات بسیار وسیعي در سطح بین المللي براه انداخته شده است که گویا طالبان، فتوحات و پیشرفت هاي شان مدیون حمایت خارجیان اند. بدون کمك هاي نظامي و مالي خارجي چگونه ممکن است طالبان با چنین سرعت بر بخش بزرگي از افغانستان مسلط گردند؟

هدف اصلي از براه انداختن چنین تبلیغات آن بود تا حمایت از نیرو هاي مخالف امارت اسلامي بوسیله حامیان خارجي آنان توجیه گردد، اگر ممالك همجوار به ملیونها دالر مساعدت مخالفین پا شکسته را روي پا نگهمیدارد بخاطر آنست که طالبان نیز از حمایت خارجي برخوردار اند.

تردیدي نیست که امارت اسلامي توان مقابله با تبلیغات وسیعي که از طرف رسانه هاي گروهي وابسته به صهیونیسم بین المللي براه انداخته مي شد نداشت اما گذشت زمان حقایقي را بر ملا ساخت که نشان داد آن تبلیغات تا چه حد بي اساس و بي بنیاد بوده است.

موضع گیري هاي خصمانه سازمان ملل متحد علیه امارت اسلامي از طرف هیچ کشوري زیر سوال برده نشد و هیچ کشوري اعتراض نکرد که چرا باید بخاطر یك شخص که وي نیز مجرم نه بلکه مورد سؤ ظن است باید یك ملت رنج ببیند و محکوم گردد ؟ شوراي امنیت سازمان ملل متحد رأي به تعزیرات اقتصادي علیه افغانستان میدهد ولي باز هم صداي اعتراضي بلند نمي شود و مخالفتي ابراز نمي گردد.

سوال اینجاست که اگر امارت اسلامي افغانستان وابسته به کدام کشور و یا قدرت خارجي مي بود آیا بهترین موقع و شرایط براي بر ملا شدن این وابستگي همین روز ها نبود؟ آیا موقعیت دشوار تر از امروز ممکن است براي کشوري بوجود آید و در چنان موقعیتي دوستان آن کشور خاموش بمانند و به یاري کشور یا نظام وابسته به خویش نشتابند؟

این مسئله خود گواه روشن بر این حقیقت است که امارت اسلامي افغانستان نه از حمایت مالي کدام کشور یا رژیم برخوردار بوده است ونه از حمایت نظامي آن. دست آورد هاي امارت اسلامي در جهت قلع و قمع مخالفین صلح و امنیت کشور فقط متکي به دو نیرو بوده است توکل به خداء«ج» و پشتیباني مردم مسلمان و مجاهد افغان.

شرایط کنوني نکته دیگري را نیز بر ملا ساخت و آن اینکه مخالفین امارت اسلامي افغانستان محروم از حمایت مردم بودند و رمز شکست هاي پیهم آنان و پیروزي هاي امارت را باید در همین نکته جستجو کرد. اعلام وضع تعزیرات اقتصادي علیه امارت اسلامي بیش از دیگران به استقبال مخالفین امارت اسلامي روبرو شد در حالیکه سازمان هاي خیریه و ذهنیت هاي واقع بین در سطح بین المللي بار بار به این حقیقت اشاره کردند که از این تعزیرات فقط ملت افغانستان متضرر میگردد. ملتي که در نتیجه دو دهه جنگ تمام هستي خود را از دست داده و قبل از اینکه تعزیرات علیه آن وضع گردد در شرایط فعلي نیز با خطر کمبود مواد اولیه و عدم امکان دسترسي به مواد و وسایلي مواجه اند که براي بقاي هر انسان ضروري پنداشته میشود.

مخالفین فقط یك بهانه در اختیار دارند و آن اینکه تعزیرات اقتصادي شامل کمك هاي بشري نمي شود ولي آیا همه ملت افغانستان براي ادامه حیات متکي به کمك هاي بشري از خارج اند ؟

قسمت مهمي از نیاز هاي مردم بوسیله تجار ملي به کشور وارد مي شود که با این تعزیرات هم تجار ملي متضرر مي گردند و هم با بلند رفتن قیمت ها سطح زندگي مردم بیش از پیش پایین خواهد آمد.

این تعزیرات اقتصادي فقط مناطقي را شامل میشود که تحت کنترول و اداره امارت اسلامي افغانستان است ولي مخالفین با استفاده از کمك هاي خارجي همچنان به تقویت خویش خواهند پرداخت. به این ترتیب مي بینیم که هدف اصلي از این تعزیرات وارد آوردن فشار بر مردمي است که در مناطق تحت کنترول امارت اسلامي زندگي مي کنند.

با این تعزیرات جامعه بین المللي روحیه جنگ طلبي مخالفین تقویت خواهد شد و به این ترتیب در کنار رنج هاي ناشي از تعزیرات اقتصادي ملت ما از دوام جنگ نیز همچنان در رنج و عذاب خواهند بود.

اعلام تعزیرات نشان داد که جناحي که از حمایت خارجي برخوردار است نه امارت اسلامي بلکه مخالفین امارت است و حمایت مخالفین از تعزیرات نیز نمایانگر این حقیقت است که مخالفین از حمایت ملت بکلي مایوس اند به همین علت از مشکلات بیشتر براي ملت استقبال مي کنند.

دشمني مخالفین با ملت افغانستان تازگي ندارد از دوران حکمروایي آنان بر کابل ویرانه هاي این شهر خاطرات دردناك را به بینندگان یاد آوري مي نمایند. آنها شصت هزار انسان را تنها در کابل فداي جنگ قدرت خویش ساختند. براي چنین عناصري هیچ چیزي جز خوش خدمتي به نفع اجانب بخاطر بدست آوردن منافع مادي ارزش و اهمیتي ندارد.

اکنون انصاف با جامعه بین المللي و وجدان هاي بیدار است که قضاوت کنند چه گروهي در افغانستان متکي به قدرت و حمایت ملت بوده اند و چه گروهي رانده شده از درگاه ملت اند. چه گروهي با حمایت خارجي این کشور را ویران کردند و هنوز هم بدین راه ادامه میدهند و چه کسانې به حفظ استقلال و تمامیت ارضي کشور و قطع همه دست هاي مداخله گر خارجي از دامان پاك این سرزمین مجاهد پرور مشغول اند. آیا نقاب از چهره هاي وابسته به دشمنان خارجي این ملت فرو نیافتاده است ؟!

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirat of Afghanistan

Chief Editor: Abdurahim Sageb

Printed by: Emirat Printing Press